

# د والدینو حقونه

Department of Children & Youth

Help Me Grow Early Intervention

## د EI د ریکارډونو ساتل او له منځه وړل

اړینه ده چې ستاسو د ماشوم د EI ریکارډونه به ستاسو د EI د خدمتونو د وړاندې کوونکي له لوري ستاسو د ماشوم تر نهمې کلیزې پورې وساتل شي. د EI د خدمتونو وړاندې کوونکی کولای شي ستاسو د ماشوم د EI ریکارډونه له یادې مودې څخه هم زیات وخت له ځانه سره وساتي، مګر دا چې تاسو د خپل ماشوم له نهمې کلیزې وروسته د ریکارډونو له منځه وړلو غوښتنه وکړئ.

EI کولای شي ستاسو د ماشوم د نوم، د زیږیدنې د نیټې، ستاسو د اړیکې د معلوماتو، د EI د خدمتونو د هغو همغږي کوونکو او وړاندې کوونکو چې ستاسو له کورنۍ سره کار کوي د نومونو یو دایمي ریکارډ یا سوابق له ځانه سره وساتي، او همدارنګه له خدمتونو څخه د وتلو په اړه د معلوماتو (له خدمتونو څخه د وتلو د کال او عمر په ګډون، او هر هغه برنامه چې د خدمتونو څخه له وتلو وروسته ورته معرفي کیږي)، پرته د وخت له محدودیت څخه.

د خپل ماشوم د EI د ریکارډونو په اړه د لازیاتو لارښوونو لپاره، مهرباني وکړئ له DCY سره پدې اړیکه ونیسئ:
ei@childrenandyouth.ohio.gov. د FERPA په اړه د لازیاتو لارښوونو لپاره، مهرباني وکړئ د U.S. Department of Education له Family Compliance Office سره، د (202-260-3887) شمېرې له لارې اړیکه ونیسئ.

## د شخړو حل

که چیرې تاسو په EI کې د کومې موضوع په اړه اختلاف لرئ، نو د حل لپاره یې ګڼ شمېر لارې شتون لري. ترټولو آسانه او چټک لاره دا ده چې د خپل سیمه ایز EI برنامې سره، د خپل د EI د خدمتونو د همغږي کوونکي یا EI د قرارداد د مدیر له لارې خپله شخړه حل کړئ.

ستاسو د EI د خدمتونو د همغږي کوونکي د اړیکې معلومات پدې رساله کې شتون لري. د خپل د ځایی EI د برنامې د مشرانو په اړه معلومات د EI په ویب پاڼه کې ترلاسه کړئ: ohioearlyintervention.org

که چیرې تاسو نه غواړئ چې د خپل ځایی EI د برنامې له لارې کار وکړئ، نو مهرباني وکړئ د ei@childrenandyouth.ohio.gov له لارې د DCY's EI ډیپارټمنټ له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولای شئ له DCY سره هم یو شکایت درج کړئ او له ځانګې څخه وغواړئ چې شکایت وڅیړي، پدې اړه منځګړیتوب وکړي، یا اړین اقدامات ترسره کړي. ستاسو شکایت باید په لیکلي توګه وي او باید لاسلیک شوی وي. په شکایت کې باید د پیښ شویو مسایلو په اړه او پدې هکله چې له کومو اصولو او حقونو څخه سرغړونه شوې ده، اړین توضیحات شامل وي.

شکایتونه باید واستول شي په:

Ohio Early Intervention
Ohio Department of Children and Youth
P.O.Box 183204
Columbus, Ohio 43218

## څیړنه

که چیرې ستاسو غوښتنه دا وي چې DCY ستاسو شکایت وڅیړي، نو نوموړی څانګې به له تاسو او ستاسو د EI د خدمتونو له وړاندې کوونکي څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي، د ټولو اړوندو معلوماتو به بیاکتنه وکړي، او د 60 ورځو په اوږدو کې به پدې اړه چې آیا ستاسو له حقونو د EI له قواعدو او مقرراتو څخه سرغړونه شوې یا نه، به خپله وروستۍ لیکلي پریکړه وکړي. په وروستۍ پریکړه کې به پدې هکله تفصیلات شتون ولري چې DCY د هر ډول ستونزې د حل لپاره څه کړي او په راتلونکي کې به څه وکړي.

## منځګړیتوب

منځګړیتوب، ستاسو او ستاسو د EI د خدمتونو د وړاندې کوونکي په خوښه دی. که چیرې تاسو دا غوښتنه لرئ چې پدې برخه کې منځګړیتوب وشي او ستاسو د EI د خدمتونو وړاندې کوونکی د خپل ګډون په اړه موافقه وکړي، نو DCY به یو تکړه او بېطرفه منځګړی معرفي کړي، تر څو د بهیر څارنه وکړي. د منځګړي لګښت به د DCY له لوري ورکول کیږي، او منځګړیتوب باید په هغو ځایونو او وختونو کې چې د ګډون کوونکو لپاره راحته وي، ترسره به شي.

## د قانوني پروسې اورېدنه

د قانوني پروسې اورېدنه، یوه بشپړه رسمي پروسه بلل کیږي. تاسو کولی شئ یو وکیل د خپل استازیتوب لپاره وګمارئ، خو دا لازمي نه ده. د قانوني پروسې په اوریدنه کې به د قانوني پروسې یو بېطرفه کارکوونکی د شکایت بیاکتنه وکړي، د ګډون کوونکو خبرو ته به غوږ کیږدي، اضافي معلومات به بیا اوګورې، او د شکایت له ترلاسه کولو وروسته به د 30 ورځو په اوږدو کې لیکلي پریکړه وکړي. د قانوني پروسې د اوریدنې کارکوونکي لګښت به د DCY له لوري ورکول کیږي.
اوریدنه باید په داسې ځایونو او وختونو کې چې د ګډون کوونکو لپاره راحته وي، به ترسره شي.

مهرباني وکړي ohioearlyintervention.org/federal-and-state-regulations ته مراجعه وکړئ، تر څو د IDEA او د Ohio's EI program په اړه د ایالتي قواعدو او مقرراتو په هکله پوها ترلاسه کړئ.

**زما د EI د خدمتونو همغږی کوونکی:**

**داړیکې معلومات:**

Department of Children & Youth

Mike DeWine, Governor
State of Ohio

Kara B. Wente, Director
Department of Children and Youth
(Rev. 07/2024)

This institution is an equal opportunity provider and employer.

## پېژندنه

په لومړنی مداخله (EI) کې د ماشومانو والدین، د معلولیت لرونکي اشخاصو د زده کړې د قانون (IDEA) لاندې له ګڼ شمېر حقونو او خوندیتوبونو برخه من دي.

د Ohio Department of Children and Youth (DCY) او د هغه سیمه ایز شریکان په Ohio ایالت کې د EI سیستم جوړوي او د یادو حقونو او خوندیتوبونو د پلي کولو مسؤولیت پر غاړه لري. له دوی څخه ډېر یې غوښتنه کوي حتی که چیرې ستاسو ماشوم د EI لپاره وړ ونه مونډل شي.

دا رساله به ستاسو کورنی ته د دا ډول حقونو او خوندیتوبونو په اړه او همدارنګه پدې هکله چې په هغه صورت کې چې تاسو د EI له کومې موضوع سره مخالفت ولرئ، باید څه وکړئ، اړین معلومات وړاندي کړي. کومې فورمې چې په EI کې کارول شوي، دا ډول حقونه او خوندیتوبونه به په مفصل ډول توضیح کوي. سربېره پردې، ستاسو د خدمتونو همغږی کوونکی به هم د هغو په اړه به تاسو ته اړین توضیحات درکړي او ستاسو هر ډول پوښتنو ته به ځواب ووایي.

## مخکینی لیکل شوی خبرتیا او رضایت

تاسو به د EI د سیستم له خوا د یو شمېر وړاندي شویو فعالیتونو په اړه له مخکي لیکلي معلومات ترلاسه کړئ. دا "له مخکي لیکلي خبرتیا" بلل کیږي. له مخکي لیکلي خبرتیا، تاسو ته فرصت درکوي چې که چیرې تاسو د یو ځانګړي فعالیت د ترلاسه کولو غوښتنه لرئ، نو په هکله یې پریکړه وکړئ. که چیرې تاسو غواړئ چې فعالیت سمدلاسه پیل شي، تاسو کولای شئ د انتظار له دغې مودې څخه تېر شئ. وروسته له دې چې تاسو پریکړه وکړه چې فعالیتونه ترلاسه کړئ، تاسو به خپله لیکلي اجازه وړاندي کړئ.

دا اجازه "رضایت" بلل کیږي. ستاسو رضایت په خپله خوښه دی او هرکله مو چې خوښه وي بیرته یې اخیستلی شئ. د EI سیستم به ډاډمن ترلاسه کړي چې ستاسو د رضایت له ورکولو وړاندي، د هر ډول فعالیت په اړه ستاسو پوښتنې ځواب شي. مهرباني وکړئ پدې اړه د خپل د خدمتونو له همغږي کوونکي یا له یو بل داسي کس څخه چې له تاسو سره د EI په برخه کې کار کوي، پوښتنه وکړئ. له مخکي لیکلي خبرتیا او رضایت په لاندینیو حالاتو کې د تطبیق وړ دی

- د ودې ارزونه یا سکرینینګ،
- د ماشوم ارزونه،
- د ماشوم او کورنی ارزونه،
- د وړتیا ټاکل؛ او
- ستاسو د انفرادی کورنی د خدمتونو په پلان (IFSP) کې د خدمتونو پیل یا بدلون.

کله چې ستاسو په IFSP کې شامل خدمتونه پای ته ورسیږي یا تاسو له EI څخه ووځئ، تاسو به له مخکي لیکلي خبرتیا ترلاسه کړئ.

په ځینو حالاتو کې به له مخکي لیکلي خبرتیا شامله نه وي. وړاندي له دې چې د EI د سیستم ځیني اقدامات ترسره کړي، لاهم ستاسو رضایت ته اړتیا شته.

د EI سیستم باید له لاندنیو مواردو وړاندې ستاسو رضایت ترلاسه کړي:

- وړاندي له دې چې د EI له سیستم څخه بهر، ستاسو د کورنی په اړه معلومات شریک شي، البته ستاسو د ماشومانو د متخصص په ګډون،
- وړاندي له دې چې د انتقال د پلانولو کنفرانس ترسره شي، یا
- د EI خدمتونو د تادیي لپاره ستاسو عامه یا شخصي بیمه وکارول شي.

باید په یاد ولرئ چې ښايي یوې ارزونې ته اړتیا وي، تر څو ستاسو د ماشوم وړتیا په ډاګه شي، او د ماشوم دغه ارزونه مخکې له دې چې تاسو ته د EI سیستم له خوا خدمتونه وړاندي شي، اړینه ده. که چیرې تاسو د ماشوم د ارزونې یا د ماشوم د اړین تشخیص په اړه رضایت نلرئ، نو ستاسو ماشوم به د EI سیستم له خوا د خدمتونو د ترلاسه کولو وړتیا ونلري.

## د EI ریکارډونه او ستاسو محرمیت

څرنګه چې د EI سیستم ستاسو او ستاسو د ماشوم په اړه معلومات لري، تاسو د EI سیستم له خوا د ساتل شویو ریکارډونو په تړاو اړوند حقونه لرئ. دغه ریکارډونه ستاسو د ماشوم د EI ریکارډونه بلل کیږي او پکې ستاسو د ماشوم د ارزونو او تشخیص د EI خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره ستاسو د ماشوم د وړتیا په اړه طبي معلومات، ستاسو په IFSP کې شامل خدمتونه، د EI د فورمو نقلونه یا اصلي نسخې چې تاسو ډکې کړې او لاسلیک کړې مو دي، او د تاسو او ستاسو د EI د خدمتونو د وړاندي کوونکو ترمنځ د اړیکو په اړه معلوماتو شامل دي.

تاسو د خپلي کورنی د EI د ریکارډونو په اړه له ګڼ شمېر حقونو برخه من یاست. دا حقونه په لاندي ډول دي:

- تاسو د خپل ماشوم د EI د ریکارډونو د نقلونو غوښتنه کولای شئ؛
- ستاسو له غوښتني وروسته د کلیزې د 10 ورځو په اوږدو کې، تاسو د خپل ماشوم د EI ریکارډونو تفتیش او بیاکتنه کولای شئ؛
- تاسو د یو داسي استازي چې ستاسو د ماشوم د EI ریکارډونو تفتیش او بیاکتنه وکړي، حق لرئ؛
- تاسو دا حق لرئ چې د ستاسو د ماشوم د EI د ریکارډونو توضیحات او تفسیرونه ترلاسه کړئ؛
- تاسو د EI د هر ډول راټول شویو، ساتل شویو او کارول شویو ریکارډونو او ځایونو د نوملړ د لرلو حق لرئ؛
- تاسو دا حق لرئ چې د EI د خدمتونو له وړاندي کوونکي څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو د ماشوم د EI ریکارډونه اصلاح کړي؛ او
- په هغه صورت کې چې د خدمتونو وړاندي کوونکی ستاسو د ماشوم د EI د ریکارډونو له اصلاح کولو ډډه وکړي، تاسو د قانوني پروسې د اوریدنی حق لرئ.

تاسو به (په وړیا ډول) د اړوند فعالیت د 5 ورځو په اوږدو کې، د وړتیا د په ډاګه کولو د سند یو نقل ترلاسه کړئ، او همدارنګه به د IFSP له هرې غونډې وروسته د 10 ورځو په اوږدو کې، IFSP ترلاسه کړئ. تاسو باندې به ستاسو د EI ریکارډونو د بیرته ترلاسه کولو په تړاو هیڅ ډول لګښت یا فیس رانشي. خو، ښايي ستاسو د خدمتونو په وړاندې کوونکی باندې د EI د هغو ریکارډونو د نقلونو په تړاو، کوم چې ستاسو لپاره یې برابر کړي دي، لګښت یا فیس راشي، البته تر هغه مهاله چې دغه لګښت یا فیس په اغیزناک ډول ستاسو د تفتیش او بیاکتنې د حق د کارولو مانع نشي.

ستاسو د EI په سوابقو کې د معلوماتو د محرمیت د ماهیت له امله، کوم کسان چې په EI سیستم کې په کار بوخت دي او دغو معلوماتو ته لاسرسی لري، باید دا معلومات محرم یا شخصي وساتي. کومې اداري چې ستاسو د کورنی په اړه د EI ریکارډونه له ځانه سره ساتي، باید د EI د ریکارډونو او ځایونو یو نوملړ هم له ځانه سره وساتي، کوم چې هغوی یې راټولوي او ساتي یې. د EI سیستم دننه چې کوم کسان ستاسو د EI ریکارډونو ته لاسرسی لري، کولای شي ستاسو د شخصي هویت په اړه معلومات (PII) یواځې له هغو کسانو سره شریک کړي چې په EI سیستم کې کار کوي، او یواځې تر هغه حده پورې چې ستاسو د کورنی لپاره د EI خدمتونو د وړاندي کولو لپاره اړین بلل کیږي. که چیرې تاسو غواړئ چې ستاسو د شخصي هویت په اړه معلومات (PII) له EI سیستم څخه بهر شریک شي، تاسو مکلف یاست چې لومړی پدې اړه خپل رضایت وړاندې کړئ.

خو، د 1974 کال د کورنی د زده کړې د حقونو او محرمیت قانون (FERPA). ستاسو د EI د خدمتونو وړاندي کوونکي ته اجازه ورکوي چې په ځینو حالاتو کې د والدینو له رضایت پرته، د شخصي هویت په اړه معلومات (PII) شریک کړي.

- ستاسو د ښوونځي ولسوالی او state education agency ته د IDEA اړینه خبرتیا. دا لاندینیو مواردو ته محدود دی: ستاسو د اړیکي معلومات او ستاسو د ماشوم نوم او د زیږون نیټه،
- هغه سازمانونه چې د اټکل شویو آزموینو د پراختیا، اعتبار یا تطبیق لپاره، د زده کوونکو د مرستو د برنامو تطبیق، یا لاربښوونې د سمون په موخه د روزنیزو ادارو او ښنستونو لپاره یا په استازیتوب یې مطالعات ترسره کوي،
- هر هغه اداره یا شخص چې د امریکا د متحده ایالاتو د عمومي کنټرولر، د امریکا د متحده ایالاتو د لوی څارنوال، د پوهنې د وزیر، یا د ایالت یا سیمه ایزی روزنیزی اداری له خوا توظیف شوی وي، تر څو د فدرالي قانوني د معیارونو په پام کې نیولو سره هر ډول تفتیش، ارزونه، اطاعت، یا د تطبیق وړ فعالیت ترسره کړي، کوم چې د فدرال یا دولت په ملاتړ له هر ډول روزنیز برنامې سره تړاو لري،
- د هر ډول اداري د قضیې کارکوونکی یا د ایالت یا د ماشومانو د هوساینې د سیمه ایزی اداري بل استازی، په هغه صورت کې چې نوموړی شخص د ماشوم د پاملرنې او خوندیتوب قانوني مسؤولیت ولري، او
- یوه محکمه، د احضار یا قانوني صادر شوي فیصلې په ځواب کې.

کله چې د EI له سیستم څخه بهر کوم څوک ستاسو د EI ریکارډونو ته لاسرسی مونډلي وي، نو هغه اداره چې د ریکارډونو د ساتلو مسؤولیت لري، باید پدې اړه هم اسناد وساتي چې څوک، څه وخت او د کومې موخې لپاره دغو ریکارډونو ته لاسرسی مونډلی.